شپه په کښې دَ قدر ده ډېرئې ثوابونه دي

ډېر په فضيلت کښې ئې نقل حديثونه دي

چانه چې دا پاتې شوه ډېرئې دے نقصان

راغلے رمضان رونړو ! راغلے رمضان

نفل په ثواب کښې ئې فرضو ته نزدې کړل

تله په حساب کښې ئې فرضو ته نزدې کړل

چا چې عبث تېره کړه بيا به کړي ارمان

راغلے رمضان رونړو ! راغلے رمضان

شته دَ اعتکاف سنت دَ اخر دَ لس ورځو

شته دغه عمل اُوچت دَ اخر دَ لس ورځو

تل کوی په شوق سره هر خوا صالحان

راغلے رمضان رونړو ! راغلے رمضان

بندي دروازې شولې بيا دَ جهنم پوره

بندي دروازې شولې د هغې تورتم پوره

ښه اعلا تو ښه دلته ده دَ بل جهان

راغلے رمضان رونړو ! راغلے رمضان

مياشت دَ محبت دغه ، مه کوه کينه حسد

مياشت دَ برکت دغه ، مه کوه کينه حسد

حق دے دَ احمد علي ټول دغه بيان

راغلے رمضان رونړو ! راغلے رمضان

..............................................................................

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

په دي دا زړونه صفا کیږي
دَ ګناهونو زنګ لر کیږي
لویه محشر کښي ښهٔ اعلا په دي بدله ده
دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه
ښه وظیفه په هر صفت ده
دا وظیفه دَ زړه راحت ده
دَ عالمانو صالحانو طریقه ده
دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه
وظیفه ډیره دَ کمال ده
دَ مستقبل ده هم دَ حال ده
په وزن ښه دا په جهان درنه درنه ده
دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه
مئین په دغي اولیاء دي
مئین په دغي علماء دي
خائسته په دي سره جمات کلي کوخه ده
دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه
لکه ګین خوږه شیرینه
نامه دَ ربّ اعلا حسینه
په هر محفل کښي ئي جُدا خوند او مزه ده
دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه
وایه احمد دا تمام
په شوق سره سحر ماښام
هریو بشر له دَ محشر لویه توښه ده

